د فلسفي شاعر غني خان د زېږېدنې د سلمې کالیزې په مناسبت ځانګړې شوې ګڼه

دا ژونـــــــدون دی دوه ورځـــــــي
خـــلاص بـــــه شـــــي او تېـــر بـــــه شـــــي
دا غنـــــي بـــــه خـــــاورې شـــــي
ورک بـــــه شـــــي او هېـــر بـــــه شـــــي

"غني خان"


# زېری

**پنځلس ورځنۍ جریده**

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ▣ ۷ – ۸ مه ګڼه ▣ دریېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۰۷ - ۲۰۸ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د چنګاښ ۲۵ مه ▣ ۱۴۳۵ هـ ق کال د رمضان المبارک ۱۸ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د جولای ۱۶ مه


## د عبدالغني خان د زېږېدنې د سلمې کالیزې سیمینار ته د ولسمشر حامد کرزي د وینا متن:

**دا د هغې وینا متن دی، چې ولسمشر حامد کرزي په کابل کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري د ۱۳۹۳ المریز کال د غويي میاشتې په ۲۵ مه په ترسره شوي سیمینار کې اورولې وه، چې دلته له لومړیو د ښه راغلاست له خبرو پرته، نور ټول متن ستاسو لوستونکو مخې ته ږدو :**




غنی خان به مو په مکتب کې او په جامعه کې پېژانده، له تازه ځوانۍ څخه بیا تر پاخه سنه چې رسېدو، نوم او شناخت یې موجود و، خو زما او د ده د لیکنو او د اشعارو او ادبیاتو شناخت هلته پیدا شو چې لس یوولس کاله د مخه یې هېواد مل صاحب مکمل دېوان راته راکی او ما ولوست.

نو په حقیقي معنا د یو فرد په توګه زما او د ده شناخت د ده د دېوان او د شاعرۍ او د نازکخیالۍ سره وشو. تر هغه د مخه مو هم په سیاسي ابعادو کې پېژند، په دې خبر وو چې شاعر دی او زبردست نقاش دی. په دې خبر وو چې د چا زوی دی او په کوم ماحول کې رالوی شوی دی، چې ماحول یې په ده ډېر اغېز کړی دی.

دا فلسفي مزاجه، نازک مزاجه او د ښکلو الفاظو او لغتونو خاوند شاعر او د سیاسي آرمانونو خاوند شاعر او د ډېرو مهمو فلسفي، سیاسي، اجتماعي مفاهیمو هغه شاعر چې ادا یې په ډېرو جذابو الفاظو او اشعارو کړې ده او د خیالاتو پرواز یې ډېر جګ اوړي. دا د یو ډېر خاص ماحول محصول دی، د ډېرو خاصو حالاتو بچی دی. د فخر افغان زوی دی.

فخر افغان په دې دی، پادشاه خان چې ډاکټر صاحب لاشاري ده ته د سفیر انسانیت لقب ور کړی دی . کتاب یې په اردو ژبه لیکلی دی او په هغه کې د کتاب عنوان دی، سفیر انسانیت. حقیقتاً چې څوک سفیر انسانیت وي، نو هغه فخر افغان دی.

په هغه ماحول کې چې غني خان را لوی شوی دی او د ده خیالات یې عیار کړي دي او په ده کې د خدایي استعداد توان چې خدای تعالی وربښلی دی، دا د ده د زبردستې شاعرۍ او نقاشۍ باعث شوی دی. کله چې یې ژوندانه ته وګورو، غني خان په یوه ستره کورنۍ کې د دې سیمې د جنوبي آسیا او په ډېرو مهمو سیاسي او اجتماعي حالاتو کې وروزل شو.

په شخصي ژوندانه کې یې هم مشکلات درلودل، د پنځو کالو و، چې مور یې وفات شوه او په داسې حالاتو کې وفات شوه، چې دی هم ناجوړه و او وبا راغلې وه، ده ته یې دعا د جوړېدو وکړه او دا یې غوښتل، خدای تعالی دې دا په هغه مرض اخته کړي، چې دی پرې اخته و، خو دی جوړ شو. دا پاچا خان لیکلي دي چې زه پر لمانځه ناست وم، په اغلب ګمان چې د ماښام لمونځ و او غني خان ناجوړه و، مور یې دعا وکړه چې زوی مې راجوړ که، زوی یې جوړ شو، په پنځه کلنۍ کې، خو مور یې ولاړه.

بیا راځي پسې چې دی هغه مکتب ته پلار شاملوي، چې د معارف او تعلیم او تربیې له پاره د ده لومړی او مهم اقدام و او بیا یې لندن ته د تعلیم له پاره لېږي او دا توصیه ورته کوي او دا زمینه ورته برابروي، چې هلته د یو عیسوي راهب په کور کې واوسېږي او انجیل ولولي، مطالعه یې کړي.

په اسلامي علومو سنبال و، پلار یې د عربي ژبې توصیه ورته کړې وه، عربي ژبه یې زده وه، فارسي ژبه یې زده وه، اردو یې هم زده وه، نو یې انګریزي تعلیم ته ولېږه او بیا له هغه ځایه امریکې ته لاړ، خو کله چې یې پلار بندي شو،


دریېم مخ ⬅

# غني خان د وخت ادبي ټولنیزه څېره

څېړندوی حبیب الله رفیع

د شلمې پېړۍ له رابرېدو سره، له یوې خوا فکري ویښتابه وده وکوله، په نړیواله سطحه انسانان راویښېدل، د ښکېلاک له نادودو سره یې مقابله کوله او نړیوال ښکېلاک د خپلې بقا او پایښت له پاره وحشت او دهشت ته لاس غځاوه او د ازادۍ او ښکېلاک مقابله توندېدله. له بلې خوا تخنیک وده کوله، نوي اختراعات او اکتشافات کېدل او د لېږد رالېږد د وسایلو ترڅنګ، د خبرتیا وسیلې او د جنګ وسلې په نوې ـ نوې بڼه راوتلې، پرمختللي هېوادونه په درنو جنګي وسایلو سنبال وو او په ۱۹۰۳ زېږدیز کال د الوتکې په جوړېدو سره، انسان وزر وکړل او په الوتکه کې سپور شو، دې حیرانوونکې اختراع، نه یوائې دا چې تګ راتګ اسانه کړ، بلکې د جګړې یوه نوې او چټکه وسیله هم شوه.

په ۱۹۱۴ زېږدیز کال د افکارو تصادم او د ګټو ټکر، لومړنۍ نړیواله جګړه وزېږوله او ګڼ هېوادونه یې د جګړې د اور لمبو ته ورټېل وهل. دا وخت انګرېزي ښکېلاک د هند پر نیمه وچه قابض و او افغانستان یې د خپلو لاسپوڅو واکمنو په وسیله اداره کاوه.

د هند له نیمې وچې نه انګرېزانو په زرهاوو کسان د جګړې بېلابېلو سنګرونو ته د نړۍ مختلفو برخو ته ولېږل. له افغانستان نه ترکیې، جرمني او د هند د ازادۍ غوښتونکو هیئت وغوښتل، چې په نړیواله جګړه کې د دوی ملاتړ وکړي، خو انګرېزانو د ځان ملګري بلل، د افغانستان مشرتابه په لویه جرګه کې د ملت د استازو په رابللو سره یوه معقوله پرېکړه وکړه، په جګړه کې د برخې نه اخیستلو پرېکړه او د بې طرفۍ پرېکړه. خو ولس د مشروطیت د غورځنګ له لارې د افغانستان د بشپړې ازادۍ له پاره کار کاوه. د هند په نیمه وچه او ورسره په پښتونخوا کې هم د شلمې پېړۍ له پیلېدو سره ازادي بخښونکي غورځنګونه په پیاوړي کېدو وو او د همدې فکري غورځنګ په رڼا کې په لره او بره پښتونخوا کې ادب او په خاصه توګه پښتو شعر کې د شکل له نظره د شعري قالبونو د ماتېدلو او د شعر د ازادېدلو لور ته هڅه روانه وه او د فکر له نظره د ازادۍ ولولې د شعرونو د سا په توګه په دې نویو قالبونو کې ځایېدلې، په کابل کې د علامه محمود طرزي د "سراج الاخبار" جریدې او په پېښور کې د ارواښاد راحت زاخېلي "افغان" جریدې، د دې نوې شاعرۍ او نوي فکر د خورولو هڅه درلوده او هلته او دلته پښتانه شاعران دې نوي میدان ته راوتل.

غني خان د نړیوالې جګړې په همدې نارامه غېږ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې او د ویښتابه په همدې فکري او ادبي زانګو کې یې د خپلې مهربانې مور للو اورېده.



خان عبدالغني خان (۱۹۱۴ - ۱۹۹۶ زېږدیز)

دی لا وړوکی وچې په افغانستان کې سیاسي، فکري، ادبي او وسله والې مبارزې نتیجه ورکړه او افغانانو د اعلیحضرت غازي امان الله خان په مشرۍ په ۱۹۱۹ زېږدیز کال خپله بشپړه خپلواکي ترلاسه کړه او ده لا ښې او

دریم مخ

# د غني خان د ژوند فلسفه

څېړنوال محمد نبي صلاحي

غني خان په شعر کې د خپل فلسفي تفکر او د یوه نقاش او مجسمه جوړوونکي هنرمند په صفت، زموږ د معاصر دوران یو ستر شاعر دی، چې د یوه رومانتیک او ریالیست شاعر په توګه، د ښکلا او مینې پالونکی دی.

غني خان ریالیستیکه شاعري کړې ده او رومانتیک خیالات هم لري او د خپل دلبر د شان کیسې ته، د یوې عجیبې فلسفې خطاب هم کوي:

وایه وایه څومره مسته، د دلبر د شان قصه ده د جنون او د جانان دا، څه عجیبه فلسفه ده

هو، د غني خان شاعري، د هغه د ژورو او زړه راښکونکو فلسفي خوبونو تابلوګانې او انځورګري ده. زموږ په نظر، په پښتنو کې په دغه خاص مهال د مینې، د ژوندانه د حقیقتونو او د کایناتو د پېژندنې لور ته، د غني خان په شان، بل هېڅ فلسفي شاعر او ساینس پوه، خپل مخ نه دی اړولی.

کاشکې! دنیاوال د ده د رنګینه او فیلسوفانه شاعري په ژبه او لهجه پوهېدای، بیا به نړیوالو ته، د غني خان د فلسفي شعر د کمال هغه وخت ښه پوره معلومات شوی وی.

خبره دا ده، چې غني ولې د فلسفي شعر لاره خپله کړې ده، هغه غوښتل چې په دې توګه، اورېدونکي ته یو زبردست احساس ولېږدوي او په دې توګه، د هغه په احساساتو او عواطفو باندې په زړه پورې اغېزه وکړي. له دې امله غني، یو کامیاب، تلپاتی او جاوېدان شاعر دی. که یو څوک داسې پوښتنه وکړي، چې د غني خان دومره له فلسفې سره مینه وه، نو بیا یې شعر څه کاوه. خبره دا ده، چې شعر د شاعرانه احساس زېږنده دی او فلسفه یې له ژبني هنر نه د انسان په عواطفو او جذباتو دومره اوچته اغېزه نه شي شیندلی. ده غوښتل چې په رمزي او سمبولیکه ژبه، د ژوند خوندونه بیان او بدګڼې وښیي او په هر څه کې ښکلا ولټوي. د ده په شعرونو کې پیاوړی شاعرانه منطق، د عواطفو یووالی، د غلامۍ پر ضد اعتراض او په خپل ملي هویت او ولس میئنتوب او د ښکلا انځورګري لیدلی او محسوسولی شئ. ده د خپلو هېوادوالو استعماري ضد جذباتو په مرسته غوښتل، چې پښتنو ته د هغه د قوت او پیاوړتیا اندازه وښیي. د ده د شعر هره مسره، د خپل وطن له غرونو، سیندونو، باغ وبڼ او له حجرو او دېرو سره له مینې او محبت نه ډکه ده. ده له ژوندانه او کایناتو نه یو خوندور سبق اخیستی دی. په رومانتیکه او ریالیستیکه ژبه یې، د مینې او جانان روزنه او پالنه وکړه او په دغه لړ کې د عشق او مینې، پښتونوالې او انسانیت اسرارو ته په دومره خوند خوند ځیر شو، چې د ټولنې او کایناتو یو شمېر رازونه یې،

دریم مخ

# غني خان د پښتو متلونو په میدان کې

څېړنپوه علي محمد منګل

غني وې که ما د زړه خبرې ووې
پښتانه به مې په سر لرګي کړي مات

عبدالغني خان غني برسېره په وطني مینې، نقاشۍ، مجسمه جوړونې، نقادۍ او فلسفي پوهې، زموږ د معاصر پښتو ادب په آسمان کې، هغه روڼ ستوری دی، چې ساری یې په شعر او شاعرۍ کې لږ لیدل کېږي، دی د خپل وخت او زمانې لوی وطني او نقاد شاعر دی، چې شعر یې د ښکلا په رنګینیو سربېره په طنزیه، سیاسي او فلسفي حرکت، سوز، هیلې او ارزو کې راغورېدلی دی. له دې سره سره یې بیا د خپل ولس د ولسي او شفاهي پوهې غوره ځانګونه هم د پښتانه په سوچه ژبه راوړي دي، چې د هرچا په زړه کې ځای پیدا کوي او بې له شک څخه اغېز پرې کوي. په دغه اړه د یوه فارسي ژبي درانه شاعر یو بیت په فکر کې راوګرځېد، څه ښه یې په مینه ویلي دي:

سخن کز دل بیرون آید
نشیند لا جرم بر دل

زما په کمه پوهه، چې نه پوهېږم، دومره ویلی شم، د غني خان شعرونه هم د خلکو او ډېری پښتنو له زړونو سره کار لري، چې د ده ټول آثار یې پوره ځلاند ستوري او مثالونه دي، د ده د شعر یوه عالي ښېګڼه دا ده، چې شعر یې په مورنۍ لهجه او ژبه ویلی دی، زه په درنه سترګه ورته ګورم او ډېر غوره یې بولم. دا بیتونه به یې د ولسي او شفاهي پوهې په توګه، چې د خپل پښتانه ولس د فولکلوري

دوهم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لوروونکي الله په نامه

## سرلیکنه

# غني خان؛ د سیاست او ادب نوماند‌ه څېره

د پښتو په معاصر ادب کې عبدالغني خان هغه ستر شاعر دی، چې له نوم سره یې نه یوازې پښتانه، بلکې د سیمې او نړۍ په کچه علمي، فرهنګي او سیاسي کړۍ هم آشنا دي، دا ځکه چې نوموړی په یوې داسې سیاسي کورنۍ کې سترګې نړۍ ته پرانیستې وې، چې په ماشومالي کې یې د آزادۍ په غوځنګونو کې برخه اخیستې، ژوند یې له ماشومتوبه په یوه سیاسي چاپېریال کې تېر شوی او د دې میدان یو پیاوړی مبارز پاتې شوی دی. په همدې لاره کې یې سختۍ او بندونه ګاللي او تېر کړي دي. په سیاسي ډګر کې د ده د فعالیتونو او مبارزو له کارندې ونډې سربېره، نوموړي په ادبي میدان کې هم قدم ایښی او تر دې کچه یې په دې برخه کې خپلو هلوځلو، پنځونو، شعر و شاعرۍ ته مخه کړې او په کې ځلېدلی، چې د پښتو په اوسنۍ دوره کې یې ځانګړی نوم ګټلی دی. د شاعرۍ ترڅنګ یې د یوه هنرمند په توګه په نقاشۍ او انځورګرۍ کې هم خپله طبعه ازمایلې او ترې بریالی راوتلی دی.

نوموړي د خپل ژوند په اوږدو کې خپلې ژبې او فرهنګ ته ډېر څه ورکړي دي، چې همدغو ادبي او فرهنګي چارو یې نوم ځلانده ساتلی دی. هغه د پښتو ادب په معاصره دوره کې پښتو ژبې ته

## د غني خان په شعرونو...

هر ګل یې ورلـه راوسته ملیـار مې کـړل بلبـل
دې ټول خرګـي جهـان ورتـه حیـران حیـران کتـل
نرګس مې پـه غېږ راوړ هم مېلمه مې کـړ رامبېل
د څاڅکو د شبنم نـه مې ښایسته جوړ کـړو امېل
نسـیم پـه خنـدا راوړل زېـر ګلونـه د چامبېـل
شـراب مـې ورلـه ورکـړل بیـا د اوښـکو د بلبـل
دې ټول خرګـي جهـان ورتـه حیـران حیـران کتـل
رڼـا مـې د سپوږمۍ کـړه د زهـرا پسـتې غزلـې
خنـدا تــه د تنځـرو ښـکلې زرکـې ګډېـدلې
د سـتورو مسـتې سـترګې غلـې غلـې رپېـدلې
ورو ورو پـرې مسـتي راغلـه د خـدای اور کـړېـل
دې ټول خرګـي جهـان ورتـه حیـران حیـران کتـل
یـوائې زه بادشـاه ومـه پـه سـر مـې تـاج د غـم
پـه خوا کـې مې دلبره وه مسـکۍ سـترګې پـر نـم
پـه غـاړه مـې امېـل ښایسـته د څـاڅکو د شبنم
ماشـومه نازنینـه پاکـه ښـکلې لکـه ګـل
دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل (٦)

لکه چې څرګنده ده، د ادب پنځونه کې تخیل ډېره مهمه او رغنده ونډه لري. همدغه تخیل دی چې یوې عادي پېښې ته ښکلا وربخښي، بڼه او لوری ورته ټاکي. ټولې ادبي پدیدې که حقیقي او رښتیني پېښې وي او که د ادیب د ذهن او تصور زېږنده، د تخیل پر وزرونو د ښکلا پوړ او حد ته رسېږي.

د (جېلخانې خوب) د غني خان په شاعرۍ کې د لوړ تخیل یوه بله غوره بېلګه ده. د اروانښاد استاد ګل پاچا الفت په وینا، چې:

فکـر کـې خیـال پـه خیـال کـې فکـر نیـول
رنـګ تـه معنـا، معنـا تـه رنـګ ورکـول
د شـاعر کـار دی شـاعري وګڼـه
د زړه پـه سـترګو خـوب پـه ویښـه لیـدل (۷)

غنـي خـان دا پـه ویښـه د زړه پـه سـترګو لیدلی شاعرانه خوب، هغه مهال د یو ادبي شهکار په توګه پنځولی دی، چې د حیدرآباد په جېل کې بندي و (۱۹۴۸ز). په دغه شاعرانه خوب کې چې له پیله تر پایه ډېره لوړه، ژوره معنا او خیال ملګری او غاړه غړۍ دي، د شاعر د خیال پر وزرونو ډېر لوړ الوت کړی دی. د زندان له هسکو دېوالو او تنګې خونې راوځي، د ښکلې پښتونخوا په غرو رغونو ګرځي، د خپل مېړني ولس پرونی پرتم او سرلوړۍ، اوسنۍ اسکېرلي، پرېوتي او ځورېدلي حال ته چې ګوري، یوه مبهمه او تیاره راتلونکې یې سترګو ته درېږي، څه شیبه یې د اندېښنو او ناهیلۍ سمندر څپې په مخه کوي، خو لوړ هوډ، ملي هیلې او ارمان له دغو توپاني څپو سره د مقابلې او مبارزې په ډګر کې تر پایه د ده مرستندویې کوي.

راځئ چې د دغو هیلو او ارمانونو د پس منظر انځور د شعر په خوږه او رنګیه ژبه وګورو:

خـوب ویـنم عالمـه کـه یـې څـوک راکـړي مانـه
پـروت یـم سـر مـې ایښـی د خپـل یـار پـه زنګانـه
خـوب ویـنم چـې پورتـه پـه هـوا لکـه د بـاز شـوم
کېناستم پـه بـام د محمـود سـترګې د ایـاز شـوم
پورته د خاموش زړګي نه خوږ د مینې ساز شوم
خرڅـه مـې پـه حـورو کـړه د ډمـو زمانـه
خـوب ویـنم عالمـه کـه یـې څـوک راکـړي مانـه
خوب وینم چې ناست یم د جینډۍ په یخه غاړه
شاه مـې سـویلو کـې لکـه سـره شـمعه ولاړه
سرې شونډې موسکۍ شوه ماته یې وې چې ژاړه ژاړه
ځکـه دې د زړه وینـې د ا شـراب دي مسـتانه
خـوب ویـنم عالمـه کـه یـې څـوک راکـړي مانـه
خـوب ویـنم چـې بـاغ دی د ګلونـو او ماښـام دی
سرې سترګې ساقي د ساقي سرو سترګو کې جام دی
لاس پـه سـتار پـروت لېونی مست لکه خیام دی
اړځ پـرې نـرۍ نـرۍ د مینـې افسـانه
خـوب ویـنم عالمـه کـه یـې څـوک راکـړي مانـه
خوب وینم چې سپینه سپوږمۍ پاس په خندا راغله
مـا لـه محبوبـه پـه شـرم شـرم تـر خـوا راغلـه
شونډو کـې شراب او پـه کـوکۍ کې قضـا راغلـه
سـره خمـاریـې راکـه پیمانـه پـه پیمانـه
خـوب ویـنم عالمـه کـه یـې څـوک راکـړي مانـه
خوب وینم چې پټ شوم په نسیم کې بهر لاړمه
خـوا لـه د جانـان لکـه د مینـې نظـر لاړمـه
سترګو د دلدار لـه لکـه خـوب د سـحر لاړمـه
یـو شرنګ کـې مـې لـوټ کـړه د عمرونو خزانه
خـوب ویـنم عالمـه کـه یـې څـوک راکـړي مانـه
خوب وینم چې زه لکه لولکه په سیل را ووتم
پورتـه د نرګس نه شوم په خوا د رامبېل اووتم
تـا و سپینې غـاړې د لیلـی پـه امېل اووتم
پـټ مـې ورتـه ووې سـلامونه جانانـه
خـوب ویـنم عالمـه کـه یـې څـوک راکـړي مانـه
خوب وینم چې پورته لکه چیغه د منصور شومه
یا یو موټی خاورې وم یا لوی دریاب د نور شومه
خو بانګ د سحر او شو زه راویښ شوم کړو کور شومه
خـوب یـوړه خوبونـو را ژونـدۍ شـوه زمانـه
وی پرېـوزه لېونیـه تېـروه دې خېلخانـه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه (۸)

اخځلیکونه:

(۱) هاشمي، په هنري او ادبي لیکنو کې د پیغام مسئله، کابل مجله، ۱۳۸۲ لمریز کال.
(۲) د غني پلوشې، سریزه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۳۹ لمریز کال، ۱۲ مخ.
(۳) د غني کلیات، د قومونو او قبایلو چارو وزارت، ۱۳۶۵ لمریز کال، ۳۳۲ مخ.
(۴) د غني کلیات، ۲۳۸ مخ.
(۵) د پنجرې چغار، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۱۹۵۶ زېږدیز کال، ۴ مخ.
(٦) د غني کلیات، ۵۸۳ - ۵۸۴ مخونه.
(۷) الفت، ګل پاچا، د ژوند انځور، د شریفه شریف راټولونه، پښتو ټولنه، ۱۳۵۷ لمریز کال، ٦۷ مخ.
(۸) د غني کلیات، ۴۷۱ - ۴۷۳ مخونه.

## غني خان د پښتو...

مغتنم آثار پرېښي او قېمتي مرغلري يې وربښلې دي.

ادب څېړونکي، په دې اند دي چې د غني خان په کلام کې له ملي او قومي مسايلو، هېوادپالنې څخه نيولې، تر پېچلو فلسفي موضوعاتو پورې خبرې شته او د ټولنې اړتياوې يې په خپل کلام کې رانغښتې دي، خپلې ژبې ته يې ډېر بکر مسايل وړاندې کړي دي.

نوموړی د پښتو ادب په معاصره شاعرۍ کې د يوه ځانګړي دريځ لرونکی شاعر پېژندل شوی دی، له هېواد، خلکو، آزادۍ سره يې مينه د شعر اساسي موضوع ده، هرڅه په صداقت او زيات صراحت بيانوي، نابيان شوي حقايق يې سپړلي او څرګند کړي، طنز د هغه د شاعرۍ په زړه پورې ځانګړنه او د تخيل او شاعرانه انځورونو مسئله يې هم ډېره ځلېدونکې ده، چې دا ټول د هغه د شعري سبک ځانګړي خصوصيتونه ګڼل شوي دي.

نو زموږ پر اوسني نسل د همدغو لوړو خصوصياتو لرونکي شخصيت دا حق دی، چې ويې نمانځي او ياد يې تازه کړي. فکر، اند او پيغام يې راتلونکو نسلونو ته ورسوي.

له ښه مرغه، روان ۲۰۱۴ زېږديز کال، چې د نوموړي د زېږېدو له سلمې کاليزې سره سمون لري، ده ته ځانګړی شوی او د ده په نوم نومول شوی دی. پتېيل شوې وه، چې د همدې کال په اوږدو کې به په کوزه او بره پښتونخوا او همداراز د نړۍ په يو شمېر هېوادونو کې د هغه د زوکړې د سلمې کاليزې جشن په ملي او نړيواله کچه نمانځل کېږي، غونډې او سيمينارونه به جوړېږي، د غني خان خپل آثار او پر هغه ليکل شوي کتابونه او مقالې به خپرېږي، چې دغه لړۍ د کال له پيله تراوسه پورې روانه ده، چې په همدې پار د زېري جريدې ادارې هم لازمه وبلله، چې دا ګڼه، ياد شوي فلسفي شاعر ته ځانګړې کړي، چې په دې سره به يې څه ناڅه حق ادا شوی وي.

کلام ښېلګې دي، وګورو:

چې په ژوند کې سخته نه وي
لکه بې مالګې طعام
چې په خوله کې خندا نه وي
لکه ډک د خاورو جام
***
چې ځوانۍ کې تکليف نه وي
لکه پټه ميان کې توره
نه يې پړق شي نه يې شرنګ شي
په زنګونو شي رنځوره (۱)

په هر حال، اوس به د اروابناد غني خان، د شعر د ځپاند اباسين له ژور تل څخه يوائې څو پښتو متلونه او په تول تللې خبرې، په ټوله ادبي او شفاهي مينه راواخلو.

عوام پښتانه متل کوي، وايي:

څوک چې په اور سوی وي، په اور جوړېږي
يا: د اور علاج، په اور کېږي.

غني خان دا پښتو مشهور متل، د خپل شعر په لويه لمن کې داسې په ادبي ژبه بيان کړی دی:

دا متل دی: "چې د اور علاج په اور شي"
نه جوړېږم، نه جوړېږم بې وصاله
چې آخر په ژړا خوار غني رخصت شي
ورته وشلوئ کفن د يار د شاله (۲)

د کليو او بانډو پښتانه متل کوي، وايي:

اختر چې تېر شي، نکروزي په دېوال وټپه

دا له پوره مفهوم او مقصد نه ډک پښتو غوره متل، عبدالغني خان د پښتنو له خولې داسې د خپل شعر په ګلزار کې، په ادبي مينې د يوه خوشبويه هنري ګل په توګه راغوړولی دی، وايي:

غني څو به د ارمان په لمبو سوځې
څو به وي دا د فراق سرې تپې
د ځوانۍ اختر دې لاړ نکريزي څه کړې؟
ښه به وي چې په دېوال يې وټپې (۳)

د پښتو مشهور متل دی، چې پښتانه يې د ټولنيز ژوند په مورد کې د يوه مرام له پاره کوي، وايي:

د خولې توکړې لاړې، بېرته نه راګرځي.
يا: د خولې نه توکړې زياړې، بېرته نه اخيستل کېږي.
يا: چې لياړې تو شي، بيا په خوله نه اخيستی کېږي.

د پښتو ژبې نوميالي او ستر فلسفي شاعر غني خان دا عوامي متل، داسې د خپل شعر په ګلبڼ کې ښېرازه رازرغون کړی، چې ښکلا به يې تل تانده او تازه وي، د ده له ادبي ژبې به يې واورو:

ته اول د صاحب پرېږده سلامونه
بيا په ده سر سايه پرېږده په ولاړې
د غني نصيحت واوره اوس ځان سم کړه
خولې له نه راځي بيا بيا توکلې لاړې (۴)

د کليو او بانډو عوامي پښتانه متل کوي، وايي:

چې تېر شي، هغه هېر شي.
يا: څه چې تېر شي، هغه د سړي هېر شي.

زموږ ستر اديب، فلسفي شاعر او لوی ليکوال، خان غني خان دا متل داسې راوړی دی، چې د خپلې ښايستې ښايست يې هېر نه دی، وايي:

هغه لاس په لاس زموږ د باغ سيلونه
هغه شين د ستورو ډک اسمان ښيسته
دا متل دی چې څه تېر شي هغه هېر شي
خو ما هېر نه کړ شو ستا لبان ښيسته

او داسې دعا کوي، چې زموږ د اوسني حال په برخه کې دې خدای مستجاب کړي:

خدايه! بوځې دا خزان چې بهار راشي
بيا زموږ د مينې شي جهان ښيسته (۵)

د پښتو خوږې ژبې مشهور متل دی، چې پښتانه يې د ټولنيزو ژوند په يو ستر مورد کې وايي:

که غر لوړ دی، په سر يې لار شته.
يا: که غرجګ او لوړ دی، په سر يې لارې تېرېدينه.

ستر پښتانه شاعر غني خان غني، دا متل د خپل شعر په لويه خزانه کې هم راته کښلی دی، وايي:

د مرګ په سترګو کې جمدون ګورم
غرمه دې اوړي
لکه شپه دې ژمي
يو خاموشي
يو قلاري خور دی
چرته که لرې
يو بخری
دې نور
ستوري؟
که لرې د صحرا اور دی
ماته وړوکو
پلوشو
کې وايي
که غر دی لوی
په سر يې لار خوشته
څه؟
که جمدون
يو روک
ساعت دی
د هوس
يو ابدي
دا د ده، دلدار خوشته
که غر دی لوی په سر يې لار شته (٦)

اخځليکونه:

(۱) د غني کليات، ۵مخ.
(۲) د غني کليات، ۱۴۰ مخ.
(۳) د غني کليات، ۱۴۱ مخ.
(۴) د غني کليات، ۱۴۵ مخ.
(۵) د غني کليات، ۱۴۷ مخ.
(٦) د غني کليات، ۳۷۷ مخ.

"د غني په اشعارو کې يا په بله ژبه، د ده د فکر په پلوشو کې عشق او مينه او محبت، پښتو او پښتونولي، رندي او مستي، تنقيد او کره کتنه، ازادخيالي او بې باکي، د بې باکۍ فلسفه او نور هر رنګ لذتونه او خوندونه شته او په دې ميدان کې ببخي د خوشحال د لارې پوخ ملګری دی، خو په ټوکو او ملنډو کې تر هغه هم وړاندې دی".((پوهاند صديق الله رښتين))

# د عبدالغني خان د...

نو له ده سره د تعلیم توان نور نه و، خرڅ نه ور رسېده، بېرته راغی هند ته او هلته د پلار لیدو ته ورغی، بندي خانې ته، نو جواهر لعل نهرو یې پلار ته توصیه وکړه، چې زوی دې ولېږه زمونږ کور ته او زما د مور او پلار موټي لعل نهرو سره به په ال آباد کې اوسي. کله چې نهرو هم بندي شو، نو نهرو خپله لور اندرا گاندي او غني خان دواړه ولېږل هغه پوهنتون ته چې ټاگور جوړ کړی، د شانتي نکتن په نامه. خاص، د دې سیمې د ماحول یو پوهنتون و، په ځمکه به ناسته وه، په ځمکه به درس و، چوکۍ او مېزونه وو، ترڅو دوی د دې سیمې په هغه ماحول کې و روزل شي او د هغه کلتور او کړو وړو او عنعناتو او رسم او رواج سره بلد شي چې د دې سیمې انسان باید په کې وروزل شي. نو د ده شاعري، د ده نازک خیالي، د ده عواطف، د ده سیاسي افکار، د ده د اجتماعي بدلون آرزو او له ښکلا او محبت او له ژوند سره د ده مینه، ټول د دغه مغلق ماحول زېږنده ده، مغلق په دې معنا چې په دې ماحول کې ټول هغه عوامل وو، چې انسان په ډېر ښه او کامله توگه په کې روزل کېدی شي او له هغه څخه تاثر اخیستل کېدی شي، که په چا کې دا استعداد وي، لکه چې په ده کې و.

نو هم شاعر شو، هم د رهین صاحب په الفاظو انځورگر شو چې زه نقاش ورته وایم. رهین صاحب انځورگر ورته وایي، ښه نقاش شو او لیکوال شو او جذباتي شو، د دغو حالاتو اثرات، درد او خوشحالي سوز او خوند اول ځل ما د ده په هغه شعر کې ولیدل، چې د فریدون د مور د خط په نامه یې لیکلی دی.

کله چې د ده اول زوی فریدون خان پیدا شو، نو زما په گومان چې دی په جېل کې و، نو یې مور خط ور ولېږه. د مېرمنې یې چې زوی پیدا شو، نو ده یو شعر پر لیکلی، ډېر ښکلی اوږد شعر دی، چا چې یې کتاب لوستی وي، هغوی به لوستی وي. لمسی یې دلته راسره ناست دی، مشعل خان نومېږي، چې د فریدون خان زوی دی.

بیا د ده آزادي غوښتنه او د پلار په مجادلاتو او مبارزاتو کې شریک د انگرېز له امپراتورۍ سره او د خدایي خدمتگارۍ کې او د انسان په دوستۍ کې او انسان پرورۍ کې او د اجتماع د تغییر له پاره د خپلې اجتماع د تغییر له پاره د تعلیم لپاره، د افراط او تفریط د ورکولو او د یوې بسیا جامعې او ټولنې رامنځ ته کول، دا ټولې هغه آرزوگانې وې چې ده، نه یوازې چې په خپل فکر او خیال او سر کې درلودې، بلکې هغوی ته یې ډېر تلاش او کوښښ وکړ، بندونه یې تېر کړل، خوارۍ یې تېرې کړې او ځان یې د ادبیاتو، نقاشۍ او د سیاسي اهدافو او اجتماعي بدلون یو عالي مقام ته ورساوه.

بېشکه چې غني خان د پښتو شاعرۍ ستر او ځلاند ستوری دی، حق یې پر دې ژبې او پر دې سیمې ډېر دی. خو دا حق په هغه توگه چې باید ادا شي، ادا شوی نه دی، پېژند گلوي یې باید په عامه توگه وای، خو تر اوسه نه ده شوې. دا زمونږ وظیفه ده چې دې ته، هم دی ورسوو او هم ځان ور ورسوو، دا پېژند گلوي نه یوازې په افغانستان او پاکستان او په دې سیمه کې، بلکې جهان ته.

تېر کال ما ته د مرحوم گلاب ننگرهاري صاحب زوی یو کتاب راووړ او دا کتاب ما وکاته، همالته په خبرو کې د گلاب ننگرهاري صاحب له زوی سره په دفتر کې ناست وم، نو څه یادونې مې ورته وکړې، ده راته وویل چې دلته یو شعر شته، د غني خان یو لیک شته، ننگرهاري صاحب ته، نو هغه شعر مې هلته ولوست او یو لیک دی، شعر هم په کې دی. پرون ماښام چې کور ته لاړم، نو دا لیک مې بیا له سره ولوست، نو د دې لیک په پای کې شفیق صاحب ته په اغلب گومان چې شفیق ته و، خو لیکلي یې دي چې شفیق ته دا خط لیکم. په اغلب گومان زمونږ استاد شفیق صاحب ته و، چې د افغانستان صدراعظم و. خدای جلا جلاله دې وبښي، د دې شعر عنوان دی نیمبلا و دیمبلا، زه په دې دا نیمبلا و دیمبلا باندې نه پوهېدم چې دا څه دي، نو سهار مې له هېوادمل صاحب څخه پوښتنه وکړه، هغه راته وویل: دا خو دوه دي نیمبلو و ټیمبلو، دغسې ده! نو دا شعر ډېر شکلی شعر دی، ډېر د طنز او معنا شعر دی.

غني خان په عین حال کې د احساس او عواطفو، د خیالاتو د پرواز، د سیاست او د اجتماعي بدلون شاعر هم و، ډېر د طنز شاعر هم و. چې څو بېلگې دلته وړاندې کوو:

زما بخت د شمعې بخت دی، یا به مرمه یا به سوځم
یا به بېخ له د دریاب ځم، یا به پاس په څپو خوځم
عجب زه، عجبه لاره، عجیبه کاروان روان دی
ما وروستي پړاو له بیایي که زه ځمه او که نه ځم

زبردسته فلسفه په کې ده، خو په ډېرو ساده الفاظو، هر څوک چې یې ولولي او یا یې واوري، پرې پوهېږي. هېڅ داسې لغت په کې نه شته چې موږ پرې پوه نه سو.

د ده په اشعارو کې به تاسې له خیام سره هم مخامخ شئ، ستر فارسي شاعر عمر خیام. ده په ډېرو اشعارو کې خیام ته اشاره کړې ده. خو بیا یې یو شعر پر خیام هم ویلی دی، په اغلب گومان یا به یې مقبرې ته ولاړ و یا به یې په خپلو تصوراتو او خیالاتو کې دا شعر ورته جوړ کړی وي، شعر اوږد دی، زه یې په لنډون سره را اخلم.

خیام ته وایي:

ته لمبه یې د تلاش، د لټون او د آرمان
زړه او فکر د خزان، ښکلې ژبه د بهار

بامیان ته یې شعر ویلی دی، هرومرو به ورغلی و، داسې ښکاري چې هلته به ورته ولاړ او دا شعر به یې ویلی وي، وایي:

یو خوا د قدرت جمال، بل خوا د انسان کمال
زه یې لېونی کړم، چارچاپېره نور دی
نه دی بامیان نه دی دا، دا خو کوه طور دی
دلته د فطرت کمال، دلته د آدم جنون

دا نو پسې ځي دا شعر، اوږد شعر دی، څوک چې دلچسپي لري، په خپله دې بیا وگوري، نو زبردست شاعر دی، په عامه وینا، ښکلی شاعر دی.

ای زما وطنه د لالونو خزانې زما، دا به نه لولم، احساساتي کېږم. مننه

# غني خان د وخت...

کېن لاس لا سم نه و پېژندلی، چې د ده پلار پاچاخان په ۱۹۲۱ زېږدیز کال د "انجمن اصلاح الافاغنه" په جوړولو سره ادبي او ټولنیزه مبارزه پیل کړه، په "انجمن اصلاح الافاغنه" کې گڼ شاعران، ادیبان، مربیان او ټولنیز خدمتگاران راغونډ شوي وو، دوی ازاد سکولونه (ښوونځي) جوړ کړل، دې سکولونو ته یې ترانې جوړې کړې او په دې سکولونو کې یې ډرامې ښودلې او ادبي غونډې منډې یې جوړولې.

غني خان د دې سکولونو له لومړیو زده کوونکو څخه و، د دې ترانو له لومړیو ویونکو او د دې ډرامو له لومړیو تمثیلوونکو څخه. ده د نبوغ تر حده استعداد درلود، د ژبو په زده کړه او د علم په زده کړه کې ډېر وړاندې ولاړ او ورسره یې ادبي څپاند استعداد په څپو شو، کله چې "انجمن اصلاح الافاغنه" خپل اصلاحي ځای د "خدایي خدمتگار" سیاسي گوند ته پرېښود، نو غني خان په ځان باندې ځوان و او شاعرۍ یې د انقلاب په فضا کې وزرې ورپولې.

په ۱۹۲۸ زېږدیز کال د "پښتون" مجلې په خپرېدلو سره، چې پاچا خان چلوله، د غني خان ادبي او سیاسي مبارزه هم په منظم ډول پیل شوه. د ده "د قبر شنې خازې" د پښتون مجلې سرپاڼه شوې او په شنو وزرونو یې راخورې شوې، ده خپل د "گډې وډې" کالم له همدې وخت نه په پښتون مجله کې پیل کړ او د خپل ژوند سیاسي او ملي شعور غږ یې په کې راپورته او خپل پیاوړی ادبي استعداد یې په کې ښکاره کړ.

غني منفرده شاعري پیل کړې وه او منفرد شاعر و، د ده شاعري خپله وه، هم یې د شعر فکر خپل و او هم یې سکښت او جوړښت، هم یې مضمون خپل و او هم شکل، خو د ده گډو وډو چې د شعر او نثر له گډون او اوبدون نه جوړې شوې وې، دا هم ثابته کړه چې د ده نثر هم خپل انفرادیت او خپل خوږلت لري، د ټوکو په مالگه مالگین او د طنز په مساله ترسکون دی، افسوس چې ده نثر لږ لیکلی، نو ځکه لږې خبرې پرې شوې، خو په ادب او هنر کې د کیفیت په وړاندې کمیت هېڅ ارزښت نه لري، نو ځکه غني د منفرد شعر ترڅنگ د منفرد نثر لیکوال هم دی.

د دوهمې نړیوالې جگړې په ترڅ کې، غني پوخ ځوان و، د نړۍ په ټول سیاست پوه و او د خپلې ملي ازادۍ فکرونه یې کول، د جگړې په پای کې، که څه هم انگرېزانو د متحدینو په مرسته برې ترلاسه کړی وو، خو جگړې ډېر کمزوري کړي وو او هم د ازادۍ غوښتنې بهیرونه پیاوړي شوي وو، غني د "پښتون زلمي" د غورځنگونو په جوړولو سره غوښتل، د پښتنو ازادي د وسله والې مبارزې له لارې ترلاسه کړي، خو دا حرکت د پاچا خان له عدم تشدد سره په ټکر کې و، نو ځکه له منځه لاړ. غني خان زړور او صادق مبارز و، ده په منافقو مبارزینو د طنز درانه گوزارونه کول او هغوی یې غندل. غني زندانونه وگالل، خو ژوندي روحیات یې مړه نه شول، د زندان ترخې شپې او شببې یې د خپلو خوږو او ترسکونو طنزونو په لیکلو او ویلو خوږولې او په ژوندیو روحیاتو یې استقبالولې. له بلې خوا دی د سیاسي هڅو په نتیجه کې پارلمان ته هم ورسېد.

په دې توگه خان عبدالغني خان په نارامو، ازغنو او کړکېچنو حالاتو کې د ژوندانه له ډېرو گرځندیو تېر شو او د خپل نبوغ او پیاوړي استعداد په مټ و د شهرت لوړ مقام ته ورسېد، ادبي معراج ته یې ځان ورساوه، ابدي ژوند یې ترلاسه کړ او دا د نړیوالې جگړې په لوخړو کې زېږېدلي ماشوم نړیوال شهرت او پېژند گلوۍ ته ورسېد او د ده د وینا له مخې، دا موټي خاوره نه یوازې دا چې مرگ ونه وژلای شوه، بلکې داسې معنوي ژوند یې ترلاسه کړ، چې ټول ورته په څو او ښار کې ناست مرگونه یې ووژل او ادبي ژوند یې ابدي شو.

## دغني خان دژوند...

په خپلو ژورو کتو سره را لوڅ کړل. د ده شعر له ژورو خیالونو او ځوړندو تهالونو، عاطفې، تخیل او طغیان څخه عبارت دی، ځکه غني خان د یو شمېر انسانانو د کلکو او تورو زړونو د پاکولو او ځلولو له پاره، د شعر لاره خپله کړې ده او دی په پښتو او پښتنو له خپله سره هم تېر و.

هو، غني خان د پښتو ژبې یو ادنی او معمولي شاعر نه دی، د طنز او کنایو په ژبه د انساني وحشت او ظلمونو پر خلاف، د شعر په ژبه احتجاج کوي. د ده شعر د افغانستان، سیمې او نړۍ د ادبیاتو په کاروان کې خپل ځانګړی ځای لري او موږ پوره باور لرو، چې تاریخ به یې په خپلو زرینو پاڼو کې خوندي کړي.

یو فرانسوی فیلسوف اوګوست کونت په دې نظر دی، چې انسان د خپل تکامل په دوران کې درې مهم پړاوونه وهلي دي:

"۱. رباني یا دیني پړاو ۲. فلسفي یا میتا فزیکي پړاو او ۳. پیزیتولیز یا د څېړنې او تجربې پړاو." (۱)

که سړی په غور سره فکر وکړي، نو د غني خان په شاعري کې د دغو درې واړو پړاوونو د هرې برخې افکار مینډل کېدی شي. په لومړي پړاو کې خبره داده، چې غني یو مسلمان شاعر دی او یو ملي مبارز. په ژبه هم د لوی خدای (ج) عبادت او د هغه د مخلوق خدمت کوي. بل یې میتافزیکي یا فلسفي پړاو دی، چې په هغه کې له انسان سره د کایناتو په باب پوښتنې پیدا کېږي او د حقیقت د رازونو د لټون له پاره، شکوې هم کوي. موږ د غني خان په شاعري کې د دغه ډول شکوو پرېمانه نمونې کتلی شو.

درېیم د تجربې پړاو دی، چې شاعر د کایناتو په څېړنه کې، دومره ډوبېږي، چې ځینې شیان بېخې نه ویني او انتها ته یې رسوي. دغه فلسفي شاعر د خپل ژوندانه په تجربو کې دغسې پړاو ته رسېدلی او هغه یې د شعر په خوږه او پسته ژبه باندې داسې بیان کړی دی:

خدایه عشق چې و، زړه دې ولې را کړ
په یوه ملک کې دوه خودسره بادشاهان

د غني په اشعارو کې دغه ډول تمایلات، د ده د شعر د پراخوالي په پړاو کې ډېر را څرګندېږي او دا یو داسې پړاو دی، چې هلته شاعر ډېر ځورېږي، ځکه د ژوندانه له حالاتو یې په زړه پورې سبق اخیستی دی، مګر سړی هغلته ډېر د عشق ضد شیان ګوري، یعنې د شاعر شاعرانه منطق خو سم دی، مګر په شعر کې یې د عقل له منطق نه خپله لاره بېله کړې ده او دې ته په فلسفه کې ایراسیونالیزم وایي او دا یو داسې پړاو دی، په هره اندازه چې د ټولنې یو غړی پوه وي، دومره ډېر ځورېږي. ان موږ فکر کوو، چې تاسو به په ورځني ژوند کې له ډېرو څخه دا خبره اورېدلې وي، چې کاشکې په هېڅ څه باندې نه پوهېدی او همداسې د مېږو په رمې پسې لوی شوی وای او اوس مو چې ښی او کیڼ لاس وپېژندل، د ژوند او ښکلا په خوندونو او رازونو پوه شو، حقیقت ته مو لاس نه رسېږي، نو ځکه ډېر ځورېږو. غني خان کله چې په دغه پړاو کې، د ژوند شپې او ورځې تېروې، نو بیا د شعر په ژبه، دغه حالت داسې ترسیموي:

غني پوهېږي ځکه ژړېږي
څه ښه به ژوند و، که ژوند د خرو

او بیا اپلاتون داسې مخاطب کوي:

ته لېونی نه شي لېونتوب ته جلال پرېږده
کېنه اپلاتونه، فلسفه دې سنبال پرېږده
اې د رڼا زویه دلته لړې او خوبونه دي
ستا تله قطرې تلې او دلته دریابونه دي

هو، دا د غني د ژوندانه داسې پوخ او پېچلی پړاو دی، چې د شعر په ژبه اپلاتون ته د ژوندانه لارې او ګودرې ورښیي او خطاب ور ته کوي.

«ځینې کسان په دې عقیده دي، چې د غني خان فلسفي افکار، د داستایوفسکي له فلسفي افکارو سره اړخ لګوي، خو زموږ په نظر داسې نه ده، ځکه چې په غني خان کله ناکله د نهیلستي تمایلاتو او ګرایشونو څپې هم راغلې دي، خو کله ور کې شوې او کله بیا را ښکاره شوې دي، نو ځکه یې په شعر کې د ملا په شمول، د هېچا پروا نه ده ساتلې او همدا وجه ده، چې کله ناکله یې په شعر کې ګډې وډې، له عقله لرې، ضد او نقیض خبرې کړې، مګر دا ټولې خبرې یې د دې له پاره نه دي کړي، چې هغه ا ته ایست شي، په هغه وخت ناوخت د نا امېدي حالات راغلي او دا ډول حالت په هرچا راځي. موږ په دې برخه کې غني خان نه شو ملامتولی.» (۲)

موږ د غني خان په شعر کې د مختلفو رواني حالتونو له ټکر سره مخامخ کېږو. دا منو، چې غني خان د خپلې پښتنې ټولنې له روایتي حالاتو ګیلې او شکوې او ان کله هم برېنډې شکایت آمېزه خبرې لري او دا یو سالم بغاوت دی. په دې برخه کې د ده افکار د ناهیلۍ د یوه خاص حالت زېږنده دي، مګر د ریالیستي افکارو جریان نه لري او دا چې د داستایوفسکي (د کازاماروف ورونه) په نامتو اثر کې، ریالیستي افکار د هغه د اتلانو له خولې اورېدل کېږي، دا د دغه اثر د لیکوال د ګمراهۍ نښه وه، مګر غني خان هېڅکله هم ا ته یست نه و. هغه په لېونتوب کې په سد او سرحال و او د ده دغه برخه شعرونه هم څه د بدو برخې نه دي.

موږ وخت په وخت د ده په شعرونو کې د عقل ضد خیالات (ایراسیونالیزم) ګورو، د ناهیلۍ او د نهیلیستي تمایلاتو موجونه او څپې او په پښتو کې د رومانتیزم، ریالیزم او د سمبولیزم د مکتوبونو غوره او برجسته نمونې دي.

غني خان د یوه ستر ملي مفکر او یوه ستر ملي ارمان نوم دی. هغه په دې برخه کې نیوکې، انتقادونه او د اصلاح فکر له ځانه او له خپلې کورنۍ او چاپېریال نه پیل کړی، بیا د ټولې پښتنې ټولنې او ټول انسانیت میدان ته ور وتلی دی. د ده په شعر کې د خودۍ احساس او د انسان د راویښولو فکر دی.

سرچینې:

۱. ویل دورانت، تاریخ فلسفه، ۳۲۹ مخ.

۲. غني او اجمل (د مقالو مجموعه)، کابل، د قومونو او قبایلو وزارت، د نشراتو ریاست، ۱۳۶۵ هـ. ل. کال، ۵ مخ.

## ای زما وطنه!

### غني خان

ای زما وطنه! د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما
ستا سر چې وي ټیټ نو زه به شان و شوکت څه کړمه
ته چې خوار و زارېږې زه به مال او دولت څه کړمه
ته چې وران ویجاړېږې زه به خواب او راحت څه کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وینه مستانې زما
ای زما وطنه! د لالونو خزانې زما
عقل مې ایرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
سترګې مې قربان شه ستا د پاره د سوچونو نه
زار شمه قربان شم ستا د خاورو د کورونو نه
ستا زړه کې پرتې دي ټولې تلې زمانې زما
ای زما وطنه! د لالونو خزانې زما
یا به دې زه سیال کړمه وطنه د جهان
یا به ستا په خپو کې تورې خاورې کړم خپل ځان
ځان به درې وړې کړم خو تا به کړم ودان
نر یمه پښتون یم تا ته یادې افسانې زما
ای زما وطنه! د لالونو خزانې زما

چهارشنبه ▣ ۷ – ۸ مه ګڼه ▣ درېيمه دوره ▣ پرله پسې ۲۰۷ - ۲۰۸ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د چنګاښ ۲۵ مه ▣ ۱۴۳۵ هـ ق کال د رمضان المبارک ۱۸ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د جولای ۱۶ مه ▣ ۴ مخ


# زېرى

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې

مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی

مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري

کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی

zerai1316@gmail.com

facebook.com/Zeerai1316

۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانســـتان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو د مرکـــز

خپرنیز ارګان

پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو

مرکز، زنبق څلور لارې،

کابل - افغانستان


# د غني خان په شعرونو کې تخیل

◉ څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

د ادبي آثارو په تخلیق او پنځونه کې د ادیب تصور او تخیلي ځواک ډېر ارزښتمن نقش لري. ادیب د بېلابېلو منظر کښنو، انساني ډوله خصوصیاتو، روحیاتو، عاداتو، حالاتو او... په الفاظو د انځورولو او وړاندې کولو له پاره له تخیل څخه کار اخلي. ادیب د تخیل په ملتیا د ادبي استعداد، تجربو او مهارتونو په وسیله د منظر کښنې او صحنې جوړونې چارې په ډېر دقت سرته رسوي او حالات یا پېښې په الفاظو کې داسې رانغاړي یا انځوروي، چې لوستونکی یا اورېدونکی فکر کوي، چې هرڅه په خپلو سترګوویني او ځان کټ مټ په صحنه کې شامل احساسوي.

دا نو د ادیب په استعداد او مهارت پورې اړه لري، چې انساني رواني حالات د خلکو هیلې او غوښتنې، جذبات، عواطف او احساسات په خپل ادبي اثر کې څنګه رانغاړي، مقابل لوري (لوستونکي – اورېدونکي) ته احساس او جذبه څنګه ور لېږدوي او د هغوی په عواطفو کې څنګه او څومره خوځښت راولي؟ (۱)

د مخه تر دې چې د غني خان د اشعارو ګلبڼ ته ورننوځو، د لوړ تخیل څو ادبي ګلونه ترې د بېلګې په توګه را خوښ او تاسې ته یې وړاندې مفاهیمو ډک دي. د زیاترو شعرونو ژبه یې ساده، خو رنګینه او خوږه ده. خو دا هم د یادونې وړ ده، کله کله چې نوموړی په شعر کې لوړ فلسفي او سیاسي مفاهیم راونغاړي، نو د عام لوستونکي له پاره یې درک او پرې پوهېدنه لږ و ډېر ستونزمنه غوندې شي او په ځینو شعرونو کې بیا پر موخه او پیغام داسې ټینګار کوي، چې شاعرانه تخیل ته یې لږ و ډېر زیان هم ورپېښوي.

ما چې د شاعرانه تخیل د کتنې په موخه د هغه د کلیاتو پاڼې وا ړولې را واړولې، نو د لوړ تخیل ډېرې زیاتې او ښې غوره بېلګې مخې ته راغلې، خو د مقالې لنډ تنګ چوکاټ ته په پاملرنه راته په کې غوراوی ستونزمن غوندې شو او د پښتو د دې لنډۍ په مصداق چې:

ســـتا د ښایســـت ګلونـــه ډېـــر دي

ځـولۍ مـې تنګـه زه بـه کـوم یـو ټولومـه

له ناچارۍ دې ته اړ شوم، چې د هغو له منځ څخه یو څو د ګوتو په شمېر بېلګې راخوښې او په دې لیکنه کې یې تاسو ته وړاندې کړم:

غني خان د انساني مینې یو ښکلی انځور د خپل لوړ شاعرانه تخیل په ملتیا د (مینه او حسن) تر سرلیک لاندې شعر کې داسې وړاندې

شروع قصه ده

د شاعر سُر او ستار

مهین غږېږي

ټنګ او ټکور د ژوند

ناز او مستي د جانان

یار شروع کړې ماته

د غم قصه ده

کله موسکی شي

کله ژړېږي... (۴)

شاعر چې کله د هرېپور زندان د تورو تنبو تر شا د آشنا د یادونو تصور کوي، نو یو عالم غمونه یې په زړه راټولېږي، د درد او غم په دې منظر کې د خپلو ارمانونو انځور داسې رانغاړي:

د جهان ټول غمونه

لکه سېلۍ راشي

د زړګي سر له به دې

لکه ګولۍ راشي

او چې ارمانونه په کې

لا د لولۍ راشي

لکه د مړي په کور

چې سره ډولۍ راشي (۵)

تخیل په شعر کې د تشبیهاتو، استعارو، څېرو او اسطورو په بڼه تبارز کوي، شاعر د

---

✸ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

**"په ادبي څېړنو د نویو لارو اړتیا" علمي څېړنیز سیمینار ترسره شو**

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز له لوري "په ادبي څېړنو کې د نویو لارو اړتیا" تر سرلیک لاندې علمي -څېړنیز سیمینار د کابل ښار د علومو اکاډمۍ د کنفرانسونو په تالار کې د ۱۳۹۳ لمریز کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه ترسره شو.

په دې سیمینار کې د ولسمشر حامد کرزي پیغام د علومو اکاډمۍ د ریيسې څېړنپوه ثریا پوپل ولوست او بیا نوموړې خپله پرانیستونکې وینا واوروله. ورپسې د ځینو وزارتونو، علمي او فرهنګي مؤسساتو پیغامونه ولوستل شول.

د دې سیمینار دوهمه برخه چې علمي مقالو ته ځانګړې شوې وه، د علومو اکاډمۍ او ځینو نورو علمي -فرهنګي بنسټونو د څېړونکو او استادانو له لوري دولس عنوانه علمي -تحقیقي مقالې ولوستل شوې، چې وروسته یې په اړه علمي بحثونه ترسره شول.

**د سیمینار په پای کې لاندې پرېکړه لیک تصویب شو:**

- د دقیقي او معیاري څېړنې په موخه وروستني روشونه، چې ټولو ته د منلو وي، ترتیب او ترسره شي.
- پوهان او څېړونکي دې د علمي تحقیقاتو په ډګر کې له سلیقوي او لهجوي مسایلو، نامانوسو او بې مورده بهرنیو کلمو څخه ډډه وکړي. د هغې ژبې د کارولو هڅه دې وکړي، چې ټولو ته د فهم او پوهاوي وړ وي.
- د نویو او تازه څېړنیزو د لا نورو لارو چارو د ترلاسه کولو له پاره وړاندیز کېږي، چې په اوسني سیمینار بسنه ونه شي، نور نوي علمي تحقیقات د کنفرانسونو او سیمینارونو له لارې څېړونکو ته وړاندې شي.
- د خطي نسخو د ښې ساتنې او له هغو څخه د کره استفادې په موخه په ځانګړي ډول د علومو اکاډمۍ په کتابخونه کې شته نسخو ته لا ډېره پاملرنه وشي، د هغو د سمې ساتنې لارې چارې دې برابرې شي.
- د علومو اکاډمۍ له لوري د دري -دري ژبې قاموس ترتیب او ولیکل شي.

*****

کړو، د استاد الفت هغه نظر رااخلو، چې د دغه نومیالي شاعر د لوړ تخیل، د ادبي پنځونو د قوت او لوړ معیار په هکله یې څرګند کړی دی. نوموړی د غني پلوشې، شعري مجموعې په سریزه کې د غني خان د شاعرۍ په اړه لیکي:

د غني خان په اشعارو کې چې څه شی زما ډېر خوښېږي، هغه د فکر او خیال آزادي او د



شاعرانه مهارت د تخیل په وسیله د ترکیب له لارې مختلف او متجانس شیان سره پیوندوي یا ګډوي. غني خان په دې کار کې ډېر بریالی ښکاري.

(زما محل) تر سرلیک لاندې شعر د غني په شاعرۍ کې د لوړ تخیل ډېره غوره بېلګه ده. شاعر د خیال او تصور په پراخه نړۍ کې ځان ته د سیند له ښکلیو او سپینو شګو یوه ښکلې ماڼۍ جوړوي، د

تقلید له تلقیناتو څخه سرکشي ده. د ده رندانه مقام ته هر څوک نه شي رسېدلی او هغه څه چې دی یې د خپل لېونتوب له برکته ویلی شي، د نورو خولې پرې سوځي. (۲)

په عامه توګه د غني خان په شعر کې د تخیل او شاعرانه انځورونو (تصویرونو) مسئله ډېره پیاوړې او ځلېدونکې ده. هغه چې په شعر کې کوم حالت بیانوي، نو په الفاظو کې یې داسې انځوروي، چې د لوستونکي یا اورېدونکي سترګو ته یې کټ مټ ښکلی منظر ودرېږي او داسې انګېري، لکه چې دا هر څه د سر په سترګو د سینما په پرده ګوري. د ده په شاعرۍ کې لوړ خیال او معنا غاړه غړۍ، په الفاظو کې وړاندې کړي انځورونه یې ډېر ښکلي او له نویو شاعرانه کوي:

ستوري ته آسمان کې یوه ورځ ووې هلال
خدای آدم ته مینه ورکړه، موږ ته تش جمال
زه به په خندا ورکړم دا خپل ښایست کمال
ما له که یو څاڅکی مینه راکړي څوک په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده
حسن له زوال شته مینه نه لري زوال (۳)

شاعر د ژمي د ماښام د منظر انځور په دې شعر کې په څومره ښکلې بڼه وړاندې کړی دی:

او نن د ژمي ماښام
د جړې شپه ده
پوست شبنمي باران
بهر ورېږي
غاړه د اور او خیام

خیال په نیلي سپور ګرځي راګرځي، هڅه او لټه کوي او هغه څه ورته راټولوي، چې د دې کورګي د ښکلا او ځلا له پاره لازم دي. د شاوخوا چاپېریال سیمې او نورې نړۍ خلک چې د ده دې کار ته ګوته په غاښ دي، د ده په ګومان ناپوهه او له واقعیت څخه ناخبره دي. د شعر په خوږه او رنګینه ژبه د مینې او دې حسین او رنګین محل منظر داسې په زړه پورې وړاندې کوي:

د سیند د سپینو شګو نه مې جوړ کړلو محل
دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل
قالین مې په کې خور کړو د سرو پاڼو د ګلاب
اوچت یې د دېوالونه د سازونو دریاب
بیا رنګ مې ورله ورکړو د خوبونو د شباب

دوهم مخ ⬅

"ظاهربینو خلکو ورته د ماشوم په نظر وکتل، خو د قدرت په نظر کې هغه د پښتني ادب پر آسمان یو ځلېدونکی ستوری و، چې له غیبه را ښکاره شو.
هو! هغه وخت، څوک پوهېده، چې دا ماشوم به یوه ورځ د پښتو د ادب غني او مستعد دماغ شي، چې د سپېڅلي طبیعت له الهامه، د حقیقي انسانیت له نوره، د سرمست احساس له جامه د رندۍ او شوخۍ له خومه د لېونۍ مینې له سوز و ساز او د ژوند د ژورې فلسفې له تله به پښتني ادب ته داسې نوې ځلا، نوې رنګیني، نوی روح او نوی خوند وبخښي، چې د پښتو زوړ ادب لا ورسره اشنا و". ((استاد عبدالرووف بېنوا))

## د میا فقیرالله جلال ابادي د ۲۴۰م تلین په ویاړ سیمینار جوړ شو

په ننګرهار کې د اطلاعاتو او کلتور ریاست له لوري د صوفي، عالم او شاعر میا فقیرالله جلال آبادي د ۲۴۰م تلین په ویاړ علمي -څېړنیز سیمینار په جلال آباد کې د چنګاښ په لومړۍ نېټه ترسره شو، چې لسګونو پوهانو او څېړونکو په کې برخه اخیستې وه.

په دې سیمینار کې یو شمېر لیکوالو خپلې لیکلې مقالې ولوستې، چې په کې د میا فقیرالله جلال آبادي د ژوند بېلابېل اړخونه بیان شوي وو. دغه راز په دې څېړنیز سیمینار کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، علومو اکاډمۍ او ننګرهار پوهنتون پیغامونه ولوستل شول.

میا فقیرالله جلال آبادي په شاوخوا ۱۱۰۰هـ ق کال د ننګرهار د روداتو ولسوالۍ د حصارک په کلي کې زېږېدلی او په ۱۱۹۵ کال د سند په شکارپور کې وفات او هملته خاورو ته سپارل شوی دی. نوموړی په بېلابېلو ژبو د ۲۳ چاپ او ناچاپ آثارو خاوند دی.

*****

## " د پاني پت له جګړې نه د هند تر استقلاله پورې په سیمه کې د پښتنو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي وضعه" علمي ـ څېړنیزه پروژه دفاع شوه

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز غړي ښاغلي څېړنوال عبدالرحیم بختاني د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي له پاره له خپلې علمي پروژې څخه، چې "د پاني پت له جګړې نه د هند تر استقلاله پورې په سیمه کې د پښتنو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي وضعه (۱۷۶۱ - ۱۹۴۷زېږدیز)" تر سرلیک لاندې وه، د ۱۳۹۳المریز کال د چنګاښ په څلورمه، په بریالیتوب دفاع وکړه.

په دې غونډه کې د علومو اکاډمۍ له لسګونو علمي غړو او پوهانو سربېره، ځینو نورو علمي -فرهنګي شخصیتونو هم ګډون کړی و.

*****

## د پښتو ژبې او ادبیاتو اړوند یو شمېر اثار چاپ شول

- ✓"**د ادبپوهنې څانګې**": د څېړنپوه سید محی الدین هاشمي اثر دی، چې له څېړنوالۍ څخه د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي په موخه یې کښلی او د میهن خپرندویې ټولنې له لوري په ۷۳۳ مخونو کې چاپ شوی دی.
- ✓"**تخیل**": د هغه اثر نوم دی، چې ریمونډ لارنس برت لیکلی او سید نظیم سیدي ژباړلی دی. دا کتاب د پښتو کاروان د ژباړې مرکز له خوا دانش خپرندویې ټولنې په ۱۱۱ مخونو کې چاپ کړی دی.
- ✓"**خپل وطنه ګل وطنه**": په دې کتاب کې د متلونو ۸۰ کیسې راغلې، چې لیکوال او طنز لیکونکي عبدالنافع همت راټولې کړې او په دې وروستیو کې د علامه رشاد د خپرندویې ټولنې له خوا په ۱۴۴ مخونو کې چاپ شوې دي.
- ✓"**یوازې شوي**": دا د ایمل پسرلي د لنډو کیسو پنځمه مجموعه ده، چې په کابل کې د سپوږمۍ راډیو له لوري خپره شوې ده. په دې اثر کې ۲۵ لنډې کیسې راغلې دي. تر دې وړاندې د څلورمه لار، یو مزل دوه نړۍ، د ښارنوال هینري قضیې او نورې کیسې او د شګې، لمر او سمندر په نامه، د نوموړي د لنډو کیسو څلور ټولګې خپرې شوې وې.
- ✓"**وینا څنګه وکړو؟**": د نړۍ د مشهور لیکوال ډیل کارنګي اثر دی، چې څېړنپوه سید محی الدین هاشمي ژباړلی او د دویم ځل له پاره د میهن خپرندویې ټولنې له خوا په ۲۷۵ مخونو کې په ښکلې بڼه او صحافت چاپ او خپور شوی دی. د دغه اثر لوستنه د هغه چا له پاره چې د وینا کولو د هنر د زده کړې مینه وال دی، اړینه ده.
- ✓"**د عبدالرحمن بابا کلیات**": دا اثر چې ویناوال یې عبدالرحمن بابا دی او د سرمحقق سید محی الدین هاشمي په اوډنه، سریزه او ویې پانګې چمتو شوی، د میهن خپرندویې ټولنې له لوري په ښکلې بڼه او صحافت په (۴۲+ ۵۲۸) مخونو کې د چاپ په ګاڼه پسولل شوی دی.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.